# د روښاني شاعرۍ فکري او فني تجزيه

Thematic and Technical Analysis of Roshani Poetry

جان عالم

**Abstract:** *Roshanite movement has been one of foundamental milestones in the development of Pashto literature. As relegio-political movement it has been stemmed in the general conciousness of people and has gradually evolved as a school of thought. This paper unpack the essence of roshanites poetry.It explores their poetry and attempts to critically analyse the artistic excellence of their thoughts and ideas in relation to concept of mysticism and allied aspects as engrained in their poetry.*

د چا نه په پښتو کښې ما ميزان ليدلی نۀ دی
مـرزا پـه دا زبـان کښـې وئيـل کـړي دي تللـي

د سـتر پوهانـد ، لـوئ شـاعر او ملـي اتـل خوشـحال خـان خټـك دا وينـا نـۀ صـرف د مرزاخـان انصـاري بلکـې د کلهـم روښـاني تحريـك پـه شـعري شـعور ، عظمـت جـاه و جـلال او انفراديـت د تصـديق ټاپـه ده او دا ځکـه چـې تـر دغـه وختـه پـه پښـتنو کښـې بـې د خوشـحاله د پښـتو پـه شـعري ميـزان او تلـه ډنـډۍ څوك پوهېده؟.

مـونږ چـې کلـه د پښـتو شـعري ادبـي پنګـې تـه ځيرشـو نـو د روښـاني دور نـه مخکښـې د پښـتو شـاعري ډېـره محـدوده او لمـن ئـې تنګـه ښـکاري او نمـونې ئـې زمـونږ لاړ ښـودنه فقـط پـه طـور د نمـونې کـولی شـي. خـو چـې کلـه مـونږ يـو څـو ګامـه راواخلـو او تـر روښـاني دور راورسـو نـو مـونږ تـه پـه پښـتو ادبـي لالـه زار کښې لوئی لوئی ديوانونه او کتابونه پرانستې تنۍ هر کلی وائي.

بيـا چـې کلـه د دغـه فنپـارو کتنـه او پلټنـه شـروع شـي نـو پـه فکـري ډول خـو پکښـې دومـره ډېـر فـرق نـۀ معلومېږي البتـه پـه فنـي توګـه د ذهنـی بلوغـت نخښـې نښـانې قـاري پـه اسـانه محسوسـولی شـي. مـونږ چـې دروښـاني مسـلك او سـبك د شـاعرانو زيـار تـه هڅـه منـد شـو نـو زمـونږ مخـې تـه د مـرزا خـان انصـاري، دولت خـان لـواني، علـي محمـد مخلـص، واصـل روښـاني،

ارزاني خويشکي او کريم داد روښاني غونډي نامې راوړاندې شي په دې ليك کښې زياتره هم د دغه نومـوړو د کلام فکري او فني جاج اخستی شوی دی. په فکري لحاظ د روښاني دور شاعران او اديبان د سني حنفي مذهب او اهل سنت والجماعت کلك ترونيان وو او دغه هر څهٔ د ستر پير، بايزيد روښان د تربيت او روزنې ثمره وه. د بايزيد روښان فکري ژورتيا قاري ته هغه وخت لکه د ائينې ځان ښکاره کړي کله چې قاري په شعوری توګه د پښتون قام د اجتماعي شعور د مطالعې پله پام وګرځوي. د بايزيد نه مخکښې که د پښتون د اجتماعيت د پاره څهٔ کوشش شوی هم وي نو هغه به د تورې او ډال پامته داره وي د تورې او ډال سره سره د قلمي کوشش سهره د وخت مورخ فقط د بايزيد په سر ايښې ده.

د بايزيد انصاري بن قاضي عبدالله د اعتقادي ترون پحقله د "پير روښان او روښاني انقلاب" د خالق سيف الرحمان مسعود دا وينا د کاني کرښه ده چې:

"د پير روښان کورنۍ د مذهب په لحاظ يوه سني مذهبه کورنۍ وه. پير روښان هم يو سني العقيده سړی وو او خپل مريدان ئې هم په دغه مذهب کښې روزول. دولت لواني چې د روښاني کورنۍ مريد او د روښانيه طريقې خليفه هم ؤ د خپل ديوان په يو بېت کښې وائي.

زهٔ دولت سني مسلم چار يار منمه
هم په خدائ رسول ﷺ راوړی دی ايمان ما

د پيرروښان تر ټولو مهم او بنيادي کتاب خېر البيان کښې ... د اسلام په پينځوو ارکانو پورې د مربوطو فقهي مسائلو پوره تشريح شوې ده دغه تشريح له ځېرمې د حنفي فقهې له مخې شوې ده چې په دې کښې هېڅ شك نهٔ پاتې کيږي چې د پير روښان عقيده د اهل سنت والجماعت عقيده وه."(۱)

پير روښان خپله دغه عقيده که يو طرف ته په خپلو مريدانو، خليفه ګانو او نزدې خلقو کښې عام کړې وه نو بل طرف ته ئې د دې په عالمي

کچې د خپرولو د پاره د قندهار په لوري خپل خليفه مودود واستولو. دولت خان ئې د صراط توحيد سره اکبر باچا ته وليږه، يو بل خليفه، يوسف ئې د فخرالطالبين سره د بدخشان حاکم مېرزا سليمان ته واستولو او ملا ارزاني خويشکی ئې دهند په لوري رخصت کړو. هم دغه سوب ؤ چې د بايزيد د وفات نه پس دهغهٔ مسلك او عقيده د هغهٔ مريدانو شاعرانو د خپل فن په چوکاټ دننه داسې وتراشله چې ترننه پورې د وخت يو انقلاب هم په هېڅ ډول د مېنځه يو نهٔ وړې شوه.

روښاني شاعرانو په فکري ډول دغه نظريه دومره وروزله چې د خپل وخت د اعتقادي مخالفينو، مخالفت او دشمني ئې د زوال برعکس د ترقۍ او شهرت سبب وګرځېدو. د روښاني مکتب فکر شاعرانو د خپل کلام محور تصوف ګرزولی دی او د کلام زياتره برخه ئې د پير روښان د صفت، د هغهٔ د نظرئې د پرچار او تصوف د کړکيچنو مسئلو د ذکر نه ډکه ده. د دغه فکر او نظرئې تر ټولو لوئی مبلغ او پرچارك د بايزيد انصاري نمسی مرزاخان انصاري بن نورالدين روښان ؤ. د مرزاخان د اعتقادي تړون په باره کښې ښاغلی همېش خليل ليکي.

" مرزاخان انصاري چونکې د بايزيدانصاري د مشن او عقيدې يو سرګرم غړی او مبلغ هم ؤ، له دغه کبله د مرزاخان انصاري د شاعرۍ مرکز او محور هم اکثر د بايزيد انصاري د افکارو، خيالاتو او عقائدو ترجماني او عکاسي ده". (۲)

د بايزيدانصاري د سپېځلي تربيت نتيجه وه چې د هغهٔ نه پس د هغهٔ شروع کړی شوی تحريك هم په هغه رنګ کښې تر ډېره وخته ژوندی ؤ. د بايزيد انصاري چلو او رياضتونو د هغهٔ د مسلك کلهم وګړي داسې اغېزمن کړي وو چې ګويا دغه مخصوص چلې او خلوت نشيني د روښاني مسلك، يو نهٔ پرېښودونکی روايت جوړ شو چې په نتيجه کښې ئې د تصوف او معرفت يوه منظمه مفکوره رامېنځ ته شوه چې اثرات ئې د ټولو روښانيانو په فن او فکر ښهٔ په اسانه محسوسېدی شي.

مـرزا خـان انصـاري چـې د دغـې نظرئـې تـر ټولـو پيـاوړې او نومـوړې مبلـغ ؤ پـه حـال و قـال ئـې د تصـوف د سلسـلې د نظريـه وحدت الوجـود اثـرات دومـره ښـکاره او واضـحه دي چـې مـونږ تـه د مـرزا پـه شـکل کښـې بايزيـد غرېدلی ښکاري ځکه خو دولت لواڼی وائي چې:

د هـادي پـه خولـۀ چـې پټ وو پـه ډېـر کالـه
د مـــرزا خولـــۀ د هغـــۀ علـــم مظهــــر ؤ

د مرزاخـان انصـاري پـه شـاعرۍ کښـې د سـلوك و معرفـت د خـوږو پـه باره کښې همېش خليل صاحب د مرزا د ديوان په ديباچه کښې ليکي:

" د مرزاخـان انصـاري شـاعري د سـلوك او تصـوف پـه رنـګ رنګينـه ده. د کـلام جـام ئـې د اسـرار و رمـوز پـه ميـو پـردی. د وحـدت او معرفـت رازونـه ئـې پـه ډېـر ښـکلې پيرايـه کښـې بيـان کـړي دي. د هغـۀ د ديـوان ادبـي، علمـي او تـاريخي اهميـت د دې نـه څرګنـدېږي چـې د هغـۀ کـلام مـونږ تـه د تصـوف د يـو منظمـې او مسلسـلې مفکـورې او نظرئـې پـه رنـګ کښـې پـېش شـوی دی او سـره د دې د هغـۀ پـه کـلام کښـې نـۀ لـږ ځايـه بلکې اکثـر و بېشـتر د جذباتو خلـوص او شـدت، د بيـان بـې سـاختګي او خپـل موضـوع سـره د کلـك او مخلصـانه تـړون احسـاس او اظهـار د هغـۀ پـه کـلام کښـې هغـه ټولـه ښـکلا او ښۀ والی پيدا کړی دی کوم چې ادب د فلسفې نه بيلوي."(۳)

د مرزاخـان انصـاري شـاعري د هـرې زاوئـې نـه د عرفـان اوسـلوك د بريـدونو سـره لګېـدلې ده او دا ځکـه چـې هغـۀ تـه معرفـت الٰهـي تـر ټولـو لويـه مرتبه ښکاري.

"اې مـرزا تکيــه د خـدائ پــه معرفـت کـړه
د مـــولٰی معرفـــت کنـــز دی لـــه کنـــوزا"(۴)

اوبيـا هغـه د دغـې خزانـې مونـدل پـه عمـل اړه ګڼـي او تـش پـه نيـت او رسمي انداز عبادت دغه مقام ته رسېدل د هغۀ په نزد ناشونی دی.

که په رسم و په رسمیو پسې روئی کړې
در پوهېږم خپله چار به کړې بګاړا
په طلب ئې تر دیدنه پورې ورشه
په خالی نیت به دې خلاصه نۀ شي غاړه

او چې کله مرزا خان په عملي توګه د تصوف د منزل ټولې لارې کچ کړې او د خپل مقصد په بام ودرېدو نو په دغه موقع ئې ووئېل چې.

مرزا پخپله هېڅ وئیلي نۀ دی
په قفس کښې د وحدت طوطي اواز کا

او بیا په دغه اواز د پوهېدلو د پاره ئې د سنجولو زرکانی په ګوته کړو چې.

دانایان به د دانا په حال پوهیږي
چې ثابت وي په څلور واړه مذهبه

دغه خیال او دغه نظریه په روښاني مکتب کښې داسې خوره شوه لکه پخکړي کښې مالګه او خوند ئې په ټوله روښاني شاعرۍ کښې ښکاره دی لکه ارزاني خوېشکی چې وائي.

په اثبات کښې ده ثابته
کل رښا له یوه نمره
د نفي توره راوخله
دا خودي کړه زبر زبره

د بایزید انصاري فکر او نظریه چې په چپو چپو تر روښانیه شاعرانو ورسېده نو هغوی د تخیل په زور ورله داسې شعري رنګ ورکړو چې که یو طرف ته ئې روښاني نظریه امر کړه نو بل طرف ته ئې د دغه فکر او احساس په زورخپلې شاعرۍ ته دوام وبخښلو. او چې د کوم یو روښاني شاعر شاعري راواخلې نو دغه سوچ او فکر په کښې په غورځنګونو دی د مثال په توګه. علي محمد مخلص وائي.

د مخلص په خولۀ ګويا شه يقين وکړه
خپل صفت کاندي په خپله ځو ترا

دغه شان د کريم داد د تصوف فکري اغېزې د هغۀ د شعري شعور جوتونه په دې ډول کوي.

يو ذات په ځو صفا ته راڅرګند شي
چې د زړۀ و ائينې ته تامل کړم
دا کثرت مې د يوۀ وحدت ظهور دی
دغه يو به په شمارې اصل د سل کړم

او يا دا چې:

چې خطيب د مخاطبه سره يو دی
ترو وچا وته سوال له جواب کړم
کثرتي عالم که هر ځو تريوزيات دی
زۀ به خپل اشنا په ډېر کښې انتخاب کړم

د دولت لواڼي انداز په دې حقله ځۀ دا شان د هغۀ فکري پرده وچتوي.

په ګومان ئې ځان جدا ليدۀ د جانا
په يقين د خپل جانان سره پېوست شۀ
تۀ په خپل عقل ناقص ئې نقصان وينې
هېڅ کمي وزياتي نشته په دلبر کښې

او واصل روښاني وائي:

اوس طالب مطلوب په مينه يګانه شو
دواسپه پرې باندې مه زغله فراقه
دانسته ئې په حجاب کښې خپسر ونغښت
ليدۀ نۀ شي، جهان واړه ځنې پر دی

د ارزاني خوېشکي انداز هم د دوئ نه ځۀ ډېر جدا نۀ دی.

د توحیـــــــد دیـــــــدن باریـــــــك دی
وحـــــــــده دی لاشـــــــــریك دی
چـــې یـــو دوه وینـــې پـــه ســـترګو
د احـــــول نظـــــــر تاریـــــــك دی

د تصـوف د دغـه ځـانګړي تصور نـه سـېوا پـه روښـاني شـاعرۍ کښـې د مجـازي مینـې سـره سـره د قـامي یـووالي د احسـاس نخښـې هـم بریښـي چـې ذکر به ئې په خپل محل وشي.

## په روښاني شاعرۍ کښې د مجاز نخښې

انسـان د شـرق دی او کـه د غـرب، تـور پوسـتی دی او کـه سـپین پوسـتی، عـرب دی او کـه عجـم، د یـو شـان غوښـې، پلـو او هـډونو نـه جـوړ دی. پـه سـینه کښـې یـو شـان درزېـدونکی زړۀ لـرې نـو بیـا څنګـه کېـدی شـي چـې د دوئ د مینـې او خوشـحالۍ جـذبات دی یـو شـان نـۀ وي. حسـن، ښائسـت او ښـکلا خوښـول د انسـان فطـري جذبـه ده. روښـاني شـاعران هـم د بشـریت لـه مخـه تـر نورو وګړیـو یـو شان وو، هـم پـه دغـه ټولنـه کښـې ئـې ژونـد کولـو. نـو ښـکاره ده چـې د مجـازي مینـې شـغل بـه هغـوئ د حقیقـت د منـزل سره اشنائۍ ته ګمارلي وي ځکه خو خوشحال خان خټك وئیلي وو چې.

عاشـقان چـې پـه ښـۀ مـخ کـا هـومره مینـه
مګـر خـدائ وینـي د ښـکلو پـه جمـال(۵)

د ښـکلیو د جمـال پـه ننداره کښـې مـې خدائ بیاموند
لـــږ نـــۀ دی لـــه مجـــازه حقیقـــت تـــه رســـېدلي

مرزاخان انصاري ته هم احساس ؤ چې:

پـــه تحقیـــق بـــه تـــر منزلـــه ورســـیږي
چـــې اول قـــدم ئـــې ایښـــی پرمجـــاز دی

دغــه رنګــې کــریم داد هــم د مجــاز او حقیقــت د پېوســتون او تــړون پــه مغز پوهه ؤ.

اشـــنایان پـــه فراغـــت بانـــدې درومـــي
کـــه مجـــاز د حقیقـــت د لارې پـــل کـــړم(۶)

او علـي محمـد مخلـص بيـا دغـه ټـول مجـاز پـه حقيقـت محمولـوي او دغه د رب مهرباني ګڼي:

چـــې مجـــاز د حقیقـــت پـــه نظـــر ګـــوري
دې مخلـص بصـيرت بیامونـد لـه قدوسـه(۷)

دغـه محرکـات وو چـې روښـاني شـاعري ئـې د مجـاز او حقيقـت دواړو رنګونـو سـره اشـنا کړه. مرزاخـان انصـاري د مجـاز د مينـې جوتونـه پـه دې ټکو کښې کوي.

نـــاز پـــرور لـــه هســـې حالـــه خبرنـــۀ دی
د هجـــران دغـــه درانـــۀ بارونـــه زۀ وړم
د فـــراق لـــه حالـــه هـــيڅ وئيلـــی نـــۀ شـــم
مـــدام اوښـــکې اوبزانـــدې پـــه بانـــۀ وړم

او يا دا چې:

لکـــه تـــا چـــې غنچـــه زلفـــې کـــړې پرېشـــانه
د عاشـــق خـــاطر دې هســـې پســـې خـــور کـــا
چـــې د نـــاز پلـــو دې ونیـــوو د وړانـــدې
پـــه عاشـــق دې دوبـــاره محبـــت زور کـــا

کـه پـه دې اشـعارو کښـې مجـازي معشـوق تـه اشـاره نـۀ وي نـو دا بيـا کوم بې خبره دلبر کېدی شي چې د خپل عاشق د حاله خبر نۀ دی.
د کريم داد ځنې اشعار چې دغه روايت ئې خپل کړی دی. په دې ډول دی.

ســـتا د شـــنام د بېګانـــه تـــر دعـــا بِـــه دی
هـــم بهتـــر د بـــل د داده ســـتا بېـــداد دی
چـــې حجـــاب لـــه مخـــه لـــرې کـــړې وخانـــدې
پـــه هـــر لـــوري خلقـــه پـــه فغـــان وينـــم

تــور بانہــهٔ دې نـــاوکي پرلينـــدهٔ ايښـــي
بيـــا کـــږې ورو‌زې دې عـــين کمـــان وينم

او يا دا چې:

د کـــريم پـــه زړهٔ هـــر دم نـــوی اختـــر دی
چې روزي ئـې شـه وصـال د خپـل سـلمی(۸)

او د دولت لواني په کلام کښې د مجاز نخښې داسې بريښي.

ځـــایٔ پـــه ځـــایٔ د محبـــت خبـــرې کيـــږي
لـــه دغـــې ســـودا خـــالي نـهٔ دی بـــازار هـــيڅ
زهٔ فقيـــر دولـــت بـــه روغ پـــه نـــور څـــهٔ نـــهٔ شـــم
کـــــل زمــــا د درد دارو د دلبـــــر لـــــب زده

**د قـامي تـړون احسـاس:** پښـتون چـې خـور وور دی نـو د هـر چـا خـوښ دی خـو کـه کلـه هـم چـا د دې قـام د يـووالي هڅـې کـړې دي نـو د ترهـه ګـری، غـداری او ملـك دشـمنی پـه تـور تـورن شـوي دي. بايزيدانصـاري هـم دغـه ګناه کـړې وه د کـومې پـه نتيجـه کښـې چـې پـرې پـه مـذهبي انتقـاد کښـې د کفـــر فتـــوې ولګيـــدې او پـــه سياســـي طـــور د تـــورې او ډال پـــه وچتولـــو مجبـوره شـو. شـاعران د قـام سـترګې وي چـې څـهٔ وينـي پـه لاشـعوري توګـه ئـې د خـولې خيـژي. روښـانيانو هـم د قـامي يـووالي او سـواد اعظـم د ملګرتيـا ضرورت محسوس کړی وو لکه کريم داد چې وئيلي وو.

د هغيـــــــــــــو کســـــــــــــانوزار دی
چـــــې لـــــــه قامـــــه شـــــو جـــــدا

او ددې سره سم هغه د خپل قامي تړون او وصلت يادونه هم کوي چې:

پـــــه هـــــيڅ دور جـــــدائي نـــــهٔ کـــــا
واصـــــــــل، وصـــــــــل دی ســـــــــدا

د سواد اعظم نهٔ د جدا کېدو په باره کښې يو حديث شريف ته په تلميحي انداز کښې اشاره کوي:

عام ئې واړه کافر بولي
هر چې اووت له دستوره

د قامي تړون نه د جدائۍ نتيجه علي محمد مخلص په دې ټکو کښې بيانوي.

که جدا شوې له يارانو ځان دې بائيلو
دښمنان درته په څو دي ستا وخون ته

## روښاني شاعرۍ کښې فن:

د فن اصطلاحي مفهوم د يو څيز ظاهري، باطني، معنوي او موضوعاتي حسن او جوړښت په يو مخصوص نوي او بديعي انداز کښې رغول او بيا د دغې رغاونې د نور ښائسته کولو د پاره نااشنا او نوې نوې طريقې پکارول.

اوس که مونږ د چا د شعري فن پارې د فني کړۀ وړۀ جاج اخلو نو مونږ به په معنوي، او لفظي هر دواړه اړخه ژور نظر ساتو او دا ځکه چې په قول د کاظم خان شېدا:

مضمون د شعر لکه پيکر دی
رنګين الفاظ ئې رخت و زېور دی
ورله پکار دي دا دواړه څيزه
پيکر که هر څو دلربا تر دی

که د فن په دغه تله د روښاني شاعرۍ تول وکړی شي نو د پيکر او رخت وزېور د توازن د معلومولو په اوان دا خبره رامخې ته کيږي چې د دغه دور شعر د خپل وخت د ادبي روايت سره سم د مضمون او مفهوم دواړو له مخه کنډه په کنډه دی. پرته له دې که قاري څۀ لږه ډېره تنده محسوسوي نو هغه يا خو د روښانيانو د يوې مخصوصې نظرئې د پرله

پسې پرچار او مقصدیت دی او یا بیا د نورو ژبو لکه هندۍ، سنسکرت، عربۍ، فارسۍ او ترکۍ بې دریغه استعمال دی د پیر محمد کاکړ خبره:

د مرزا شعر به جوړ وۀ ولې دریغه
په وحشي الفاظو دۀ کړو پران شعر

پیر محمد کاکړ چې کومو ټکو ته وحشي وئیلي دي یقیناً چې د عام لوستونکي د پاره د ډېر مشکل او ثقالت باعث کیږي د مثال په طور د سهاګڼ، بګاړ، ګرهوځ، انند، ارسي، کهګل، ګلبانګ، ګلیم، پندار، شقاوت، سکین، عسس، چوګان، منزه، اس، نراس، کناس، چو وچرا، ملوج، نچل، هټ، ګاړ، کاکلوچ، کالوخه، سماهیج او خلیس غوندې ټکي بې د لغت یا استاذه ولاړول ګران دي. د مقصدیت او لفظي ابهام له مخه د پېدا شوي مشکل دغه احساس هغوی ته پخپله هم شوی ؤ لکه مرزا خان انصاري چې وائي:

د مرزا کلام دقیق دی
تۀ ئې فهم پر تفسیر کا

او یاد دولت دا شعر:

د کلام په معنی هر څوك نۀ پوهیږي
د زبان لوستل اسان ګران ئې تاویل دی

خو سره د دې د کلام نور حسن لکه وزن، بحر، ردیف او قافیې ځانګړی نظام د تشبیهاتو استعارو، کنایو او رمزیت برمحل استعمال، او د صنائعو بدائعو په ځائ راوړلو دغه خامي تر ډېره حده پټه کړې ده.

د بایزید روښان فکر چې په چپو چپو تر روښانیه شعراؤ ورسېدو نو هغوی د خپل تخیل په زور او فني مهارت په وسیله ورله داسې شعري رنګ ورکړو چې که یو طرف ته ئې روښاني نظریه امر کړه نو بل طرف ته ئې د دغه فکر په اساس خپلې شاعرۍ ته دوامیت وبخښو.

په فني لحاظ د هر روښاني شاعر کلام جدا جدا خوند او رنګ لري په کلهمه روښاني شاعرۍ کښې د تشبیه او استعارې استعمال دومره په

خوند، رنګ، موقعه او محل سره شوی دی چې د بنده پرې د شلمې صدۍ د شاعرۍ مینه ماتیږي. مرزا خان د اوښکو د پاره د ملغلرو استعاره پکاروي او هغه هم په دې انداز کښې چې:

د فراق په سرخۍ زېب د سترګو ګوري
بیا په تور بانړه چې زانګي ملغلرې

صرف او صرف دهغهٔ هنر او فنکاري کېدی شي. دغه شان د واصل روښاني دا محاوراتي شعرونه څومره شوخ او شګفته رنګ لري.

اتفاق د فراغت د پاره ښهٔ دی
جمیعت لکه تسبیح په یوهٔ تار شي
لاس پغاړه د خپل زړهٔ له فعله ناست یم
ما وې غم به مې څهٔ کم کا، راته زیات شهٔ

د ځنو نورو روښاني شاعرانو د دغه قسمه شعرونو ځنې نمونې څهٔ دا شان دي.

دولت لواڼی

له نـاني رفیقـه! تښته
محبت له یار جاني کـا

ارزاني خوېشکی:

په خپل کور کښې بانګ اووایه
اې زمـا دلـه بلاله
په رموز سري پوهیږي
په لور پوهیږي بېل

واصل روښانی:

زهٔ مدام د خپل اشنا په مینه مل یم
لکه یوه شمع له بلې شمعې بل یم

شاعر چې د کومې ټولنې سره ربشې لري د هغه ټولنې اثرات نېغ په نېغه په هغهٔ پرېوځي بيا دغه اثرات د هغهٔ د خولې او د قلمه په شعوري او کله په لاشعوري ډول صادرېږي.

اولسي ادب د پښتو ادب د ورمبني پاټکي حېثيت لري او هم دغه سوب دی چې ورومبی د وروستی پل وي، په مصداق ټولو شاعرانو د اولسي ادبي رنګ نه ځان نهٔ دی ژغورلی. روښاني شاعران هم په دغه اولسي رنګ کښې ځائ په ځائی رنګېدلي دي. هغوی دغه روايت ډېر په فنکارۍ او استاذۍ سره په خپله شاعرۍ کښې ځايولی دی کوم چې د هغوی په شعري شعور د پخې فنکارۍ دلالت کوي مثلاً.واصل روښانی وائي:

د واصل کسي په مينه نهٔ مړېږي
بورا کله د سپرلي په ګلو سېر شته

او مرزاخان انصاري هم دغه خيال په دی ټکو کښې بيانوي، چې:

چې تمام وجود ئې عينې سترګې نهٔ شي
د دې يار مخ به په کومو سترګو وينې

د دې ټپې نېغ په نېغه اثر ښکارې چې:

ستا په ديدن به مړه نهٔ شم
که تمامي وجود مې سترګې سترګې شينه

دغه شان د دې ټپې:

رائه رائه چې ديدن وکړو
عمر د ژمي مازيګر دی تېر به شينه

عکس د علي محمد مخلص په شعر کښې داسې برېښي:

د دنیـــا ځـــواني ښائســـت د مـــازیگر دی
پـرې غـرور مـه شـه ځرګنـد دائـم زنهـار تـه

د اولسـي اثـر د ننـدارې نـه چـې لـږ مخکښـې لاړشـو نـو د صـنائعو او بـدائعو رنګـین چمـن راښـکاره شـي چـې پـه کښـې د طبـاق، تلمـیح، تجنـیس، ارسـال المثـل، سـیاق الاعـداد، تـدبیج او اشـتقاق غونـدې ناویاتـه صـنعتونو اسـتعمال ښـهٔ پـه خـلاص مـټ شوی پـه نظـر راځـي. صـنعت طبـاق یـا تضـاد پـه یـو شـعر کښـې دوه اپوټه ټکي راوړل طباق بللی شي. مرزا خان انصاري وائي:

پـه حیـات صـورت شـمېرلی لـه مـرده ئـې
اې نادانـــه لـــه دانـــا ئـــې بـــې نصـــیبه

او یا دا:

پـــه ظـــاهر بـــاطن لـــه نهـــي جـــاروتلی
یـــو تنهـــا امـــر جلـــي کـــا هـــم اخفـــا

ارزاني خویشکي د صنعت طباق جوتونه په دې ټکو کښې کوي:

زنـــــده دل بـــــه پـــــرې پـــــوهیږي
پـــــه دا ځـــــهٔ پـــــوهیږي مـــــړی

کریم داد ئې داسې پکار وي چې:

چـې د نېـك و بـد اختیـار مـې پـه لاس نشـته
د رضـــا تســـلیم بـــه واړه د قضـــا کـــړم

او د علي محمد مخلص نمونه د طباقي شعر په دې ډول ده:

د دنیـــا پـــه کمېـــدهٔ د دیـــن زیـــاتی دی
او نقصـــان ګڼـــه د دیـــن، زیـــاتي د مـــال تـــهٔ

**صنعت تلمیح**: په شعر کښې د ایت قراني یا حدیث نبويﷺ څۀ ټکړه راوړل یا بیا څۀ تاریخي، مذهبي، روماني پېښې ته اشاره کول د تلمیح صنعت بللی شي، علي محمد مخلص ئې داسې استعمال کړی دی:

زړۀ مې خواست کاندي له ربه
له مولا نحن اقربه
موسی اور غوښت، دۀ نبي کا
دا خبره ده عجبه

د کریم داد تلمیحي انداز:

حرص اوباسه له کوره، و ادم وته وګوره
د یوې دانې له پاره بې نواشه له ارمه

مرزاخان انصاري وائي:

نحن اقرب الیه ورته وایه
دی ترځان، وځان تر دۀ ګڼه قریبه

د ارزاني خوېشکي تلمیحي اشارې وځیرئ چې وائي.

زما د زړۀ کعبه کا خلاصه
له دېغ اصحاب فیله
پردا غیرو باندې ساز کا
د غیب طیرا ابابیله

او واصل روښانی د خپل فني استعداد ښکارونه داسې کوي.

د دانا کلام رښتیا یدبیضا دی
د موسی په دودئې وکېښں له بغله

**د تجنیس صنعت**:

چې کله یو ټکی یا خو هوبهو یو شان دوه ځایه راوړی شي او دواړه ځایه جدا معنٰی ادا کړي او یا بیا د څهٔ معمولي بدلون سره دوه ځائ استعمال شي د تجنیس صنعت بللی شي، د مخلص د دیوان نه یوه نمونه دا ده:

تهٔ نظر په نور الله کړه پورته ښکته
د حق نور ګوره پرنور مهٔ ګوره چرته

ارزاني خوېشکی:

دا صورت د اب او له ده
دا اوله د اب ، او له ده
ستا دوکان د زروکان دی
که ماشه ده که توله ده

د ارزاني په شعرونو کښې اوله او اوله د تجنیس تام، او کان او دوکان د تجنیس مضارع خوندور مثالونه دي.

**صنعت د ارسال المثل**:

شاعر چې کله په شعر کښې متل راوړي ارسال المثل ورته وائي. مرزا خان انصاري وائي:

د استاد کلام رښتیا دی
صحبت نهٔ دی بې تاثیره

او کریم داد وائي:

اثر واړه په صحبت دی
دا خبره ده مشهوره

دولت وائي:

ونادان ته هر څهٔ وایم پوهه به نهٔ شي
د هوښیار د پاره لږ خبره بس

**صنعت دسیاق الاعداد**: کله چې په شمېره شعر ښائسته کړی شي دغه هنر دسیاق الاعداد په نوم پېژندلی شي مرزا خان وائي.

د وحدت په یګانګۍ کښې شماره چرې
د کثرت په حساب تېر ترلك وکروړشه

او ارزاني وائي:

دا شمارې تر کروړه لکه
کل پېدا دینه، له یکه
له یوه یکه ثنا شي
په دا نهه واړه فلکه

**صنعت د تدبیج**: کله چې په شعر کښې د ګڼو رنګونو ذکر وشي نو د تدبیح صنعت ورته وئیلی شي لکه د مخلص دا شعر.

له وحدته د کثرت په مېدان راغی
سپین وتور، زیړ وزرغون شۀ یار زما

**صنعت د ذواللسانین**: په یو شعر کښې دوه ژبې ځایول صنعت د تلمیع یا ذواللسانین بللی شي. په روښاني شاعرۍ کښې د دغه فني کمال تکمیل هم شوی دی کریم داد وائي:

د فقیر زړۀ کا تالا
ګلعذار ماه سیما
د رنځور د زړۀ د پاره
زیر لب دارو دوا
تۀ شیرین زۀ دې فرهاد یم
من وامقیم تو عذرا
ستا له غمه فارغ نۀ یم
هم صباح هم مسا
کریم داد شه ستا د سترګو
اشفته مست و شیدا(۹)

**ایجاز و اطناب**: دروښاني شاعرانو او بیا په تېره تېره د مرزا خان د استاذۍ او فن کارۍ اندازه د هغهٔ د اختصارا و اجمال څخه لګېدی شي چې سره د ایجازه د هغهٔ وړه خبره ګویا سمندر په کوزه کښې د بندولو په مصداق د معنیٰ یوه لویه پنګه رانغښتې وي:

د مرزا خبره لږه معنیٰ ډېره
بینائي لکه په کسي کښې مکتومه

دغه شان د دولت لواڼي دا شعر په یو څوټکو کښې څومره لوئ مطلب پټ لري:

عمل هر چرې بې علمه نا تمام دی
علم هم کمال نهٔ مومي بې عمله

**دروښاني شاعرانو سائنسي پوهه**: اګر که په هغه دور کښې د مواصلاتو نظام دومره تند او ګړندی نهٔ وو خو بیا هم د خپلې ژورې مطالعې په سوب د دغه دور شاعران د ځنو سائنسي حقیقتونو نه په ښهٔ شان خبر وو او ځائ په ځائ ئې په کلام کښې ذکر کړی دی لکه مرزا خان انصاري وائي:

دا شبنم په ګیاهونو تار په تار ؤ
چې هوا و وبله وځېښهٔ سحاب شهٔ

او یا دا چې:

تفاوت د عین و غین کولی نهٔ شي
په نقطه باندې چوپېر لکه پرکار ځي

یا بل ځائ وائي:

یو دریاب دی یوه زمکه
ګنې خوږ شه زقوم ښور دی

د علي محمد مخلص سائنسي رسائي وځیرئ چې وائي:

تــــــۀ دریـــــاب زۀ دې بخـــــار یــــــم
تــــــۀ بـــــاران زۀ دې بهــــــار یــــــم
زۀ بـــــې تــــا خاشــــاك و خـــــار یــــم
صـــــبر څــــۀ غــــواړې لـــــه مــــا

**ســـهل ممتنـــع**: چــې د چــا د کــلام پــه لیــدو اورېــدو د لیــدونکي اورېدونکي پـه زړۀ کښـې راشـي چې دا خـو دومـره اسـان دی چـې داسـې خـو زۀ هـم جــوړولی شــم خـو سـره د زیـاره هـم هغـه شـان سـهل، اسـان او سـاده مضـمون جـوړ نـۀ کـړی شـي دغـه صنعت د سـهل ممتنـع پـه نامـه بللـی شـي. د روښـاني مکتـب د شـاعرانو ژبـه اګـر کـه ډېـره مشـکله او ګرانـه ده خـو بیـا هـم ځـای پـه ځـای د سـهل ممتنـع غـوره نمـونې لـري مـثلاً د علـي محمـد مخلـص د کلام نمونه:

د کامـل خـدمت پـه ځـان پـه مـال ئـې هـم کـړه
سـرو ومــال کـــړه د کامـــل پـــرمخ نثــار تـــۀ
کــه ضــائع دې ســرمایه کــړه پــه دنیــا کښــې
پــس لــه مرګــه امیــد مــه کــړه د دیــدار تــۀ
پــه جهــان کښــې د حــق دیــد د زړۀ پــه سترګو
پس له مرګه بـه دوسـت ووینـې اظهـار تـۀ (۱۰)

او د مرزاخان انصاري شعر:

د مهجـــور بـــه زمـــان څـــۀ رنګـــه تېریـــږي
چــې نــزدې لیــدلی یــار شــي ځنــې لــرې

او د واصل روښاني دا شعر:

دا لیـــــدۀ اورېـــــدۀ کلــــه برابـــــر دي
د دیـــدن تســـلي نـــۀ شـــي پـــه خبـــره

د قـافیې او ردیـف نظـام هـم د روښـانیانو سـره د فارسـۍ او عربـۍ پـه دود ښـۀ پـه کامیـابۍ سـره مخکښـې تلـی دی. د ارزانـي خوېشـکي، علـي

محمد مخلص او مرزاخان انصاري د لنډ بحر شاعري يو زبر دست اهنګ او غنائيت لري هم دغه اهنګ او غنائيت پکښې يو ښهٔ چستي، بېتکاوه رواني او موسقيت پېدا کړی دی مثلاً مرزاخان انصاري وائي:

په سپين مخ دې راخور کړې
توري زلفې غورولې
په کاتهٔ کښې دې کړې غوڅې
د عاشق د زړګي ولې
له ازاره نهٔ ويرېږي
خلقې ئې دی وژلې
په هېچا به منع نهٔ شي
د مرزا په قصد راغلې

او يا دا چې:

بادشاه د هر چا رب
حکمتونه ئې عجب
واړه کړهٔ ئې په رضا شي
حکم دار د هر سبب
ودانې ئې شي په رحم
وېرانې ئې له غضب
د مرزا حکم پښتو دی
کل معنٰی ئې د عرب

د پورته بحث او شعري نمونو پېش کولو نه پس مونږ وئيلی شو چې د روښاني مکتب شاعري د خپل وخت غوره، سنجيده او افاقي شاعري ده. دغه شاعري په فکري لحاظ هم يو ځانګړی رنګ لري او د فن له مخه هم هغه ټول خصوصيات لري کوم چې د ښې شاعرۍ نخښې بللی شي.

# حوالې

(1) مسعود ، سیف الرحمان، پیر روښان او روښاني انقلاب، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، اول ځل اکتوبر 1998ء، مخونه 118-119
(2) انصاري، مرزاخان، د مرزاخان انصاري دیوان، مرتبه،همېش خلیل، دارالتصنیف پېښور اول ځل 1959ء
(3) ایضاً
(4) ایضاً، مخ 17
(5) ختک، خوشحال خان، د خوشحال خان ختک کلیات، په اهتمام میا حاجي محمد عبدالرحمٰن، تاجران کتب مردان، 1928ء مخ 18.
(6) کریم داد ، د کریم داد دیوان، مرتبه خیال بخاری، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي وړومبی ځل مارچ 1964ء مخونه 88-87
(7) مخلص، علي محمد ، د علي محمد مخلص دیوان، مرتبه ډاکټر پروېز مهجور خوېشکی، پښتو اکېډمي، پېښور یونیورسټي، مخ 57
(8) کریم داد ، د کریم داد دیوان، مخ 56
(9) ایضاً، مخ 54
(10) مخلص، علي محمد ، د علي محمد مخلص دیوان ، مخ 179